**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د یمن ماشومانو د جګړې او سون موادو د کړکېچ له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی او راتلونکی یې له ګواښ سره مخ دی



**(ژباړه)**

**خبر:**

بي‌بي‌سي د روان کال د جنوري په ۱۸مه  په یوه راپور کې لیکلي، په یمن کې جګړه لامل شوه چې د یوه کلي اوسېدونکي له منځه لاړ شي؛ په داسې حال کې چې هغوی په جګړه کې په مستقیم ډول ښکېل نه وو.
همدارنګه د سون توکو د قېمت د لوړوالي له امله د دغه هېواد د غرنیو سیمو اوسېدونکي له لېږدوونکو وسایلو څخه ګټه نشي اخیستی او په همدې توګه د لومړنیو مرستو لکه، صحي خدمتونو، لېږدوونکو وسایلو، اوبو او غذا څخه بې برخې دي. له بلې خوا ډېری ماشومان اړ دي چې د لېږد د وسایلو د نشت له کبله خپلو کورنیو سره د مرستې لپاره درانه شیان ولېږدوي؛ دوی هره ورځ لږترلږه ۵ ساعته پلی تګ کوي. دغه حالت له سخت خطر سره مخ کړي، تحصیل ترې پاتې او په رواني فشارونو اخته دي؛ ځکه دوی په خپل کوچني وجود سره د ژوند درووند پېټی په اوږه کوي او کورنۍ ستونزې حلوي. همدارنګه ډېری نجونې له لرې سیمو څخه د پلي تګ له امله له ګواښ سره مخ دي.

**تبصره:**

دا یو حقیقت دی، چې د پرېمانه نفتي ذخیرو په شتون کې د یمن په څېر شتمن ملت د سون توکو له ناورین سره مخ دی؛ خلک یې د منځنیو پېړیو په څېر شرایطو کې ژوند کوي او دا ناورین د غربي هېوادونو لخوا د اسلامي خاورو د چارواکو په مرسته پلان شوی. د ماشومانو د درنو کارونو په پایله کې میلیونونه نجونې او هلکان له ستونزو ډک ژوند تېروي او نشي کولی خپل تحصیلي کلونه او له لاسه وتلې موکې بېرته لاسته راوړي. د مرستو رسولو نړیوالو سازمانونو د دغو مظلومو ماشومانو د ژوند په ښه والي کې هېڅ اغېز نه درلود. دوی له څو کلونو راهیسې دا حالت ویني او د هغو مړینو او ورانیو شمېر چې لامل یې د غربي هېوادنو جګړې او ظلم و، همداسې د کاغذ پر مخ پاتې؛ پرته له دې چې عاملینو ته یې جزا ورکړشي.

کافر غرب د مسلمانو ماشومانو له ژوند څخه په قصدي توګه د جګړه ییز ډال په توګه کار اخلي؛ ځکه دوی ته د مسلمان ماشوم ژوند هېڅ ارزښت نه لري، دوی ته یوازې خپلې اقتصادي ګټې مهمې دي. همدارنګه د اسلامي خاورو چارواکي د خپلې سیاسي بې پروایۍ له امله پر بې ګناه ماشومانو هېڅ رحم نه کوي، چې هره ورځ له سختو فشارونو سره مخ دي. په همدې توګه میلیونونه ماشومان د وبا او کولرا په ناوړه ناروغیو اخته دي؛ دا ناروغۍ د ناپاکو اوبو او غذا له لارې لېږدول کېږي او دوی د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره له ناپاکو اوبو پرته بله لار نه لري. بل خوا د اسلامي خاورو شتمني، قدرت او فوځ په یمن کې د اړو خلکو د درد او غم د کمولو لپاره نه، بلکې د بمباریو او بندیزونو لپاره لېږل کېږي؛ څو وېره، وحشت او اندېښنه نوره هم ډېره کړي.

نور باید ددغو بې عدالتیو زغم ته د پای ټکی کېږدو. د خپلو ګرانو ماشومانو د غم ختمولو لپاره د یوه مسلمان په توګه خو اواز اچتولی شو. تر څه وخته به دا کړېدلي ماشومان له غرونو څخه درانه شیان ښکته او پورته لېږدوي؛ په داسې حال کې چې الهي نظام هېڅکله دا نه خوښوي چې د راشده خلفاوو په څېر واقعي حاکم دې د خپل رعیت حقونه له پامه وغورځوي. په همدې توګه د هغه چا لپاره دا ډول کړنه د منلو وړ نه ده، چې د اخرت د ورځې په محاسبه ایمان لري. لکه څنګه چې د اوسنیو چارواکو تر واک لاندې د ماشومانو او ښځو په وژنه او لوږه کې په ګډون سره شرم او حیا هېڅ نشته. په داسې حال کې چې د اسلامي امت د شتمنۍ ډېره برخه د دوی شخصي او یا یې د غربي بادارانو حسابونو ته ځي. همداراز قرآن کریم موږ د حکامو له خیانت څخه خبر کړي یو. په حقیقت کې موږ په داسې وخت کې ژوند کوو، چې د حکامو خیانت او بې عدالتۍ د ظلم په حد کې دي. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې هم په لاندې حدیث کې یادونه کړې ده:

«مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللهُ رَعِيَّةً، يمُوتُ يَوْمَ يمُوتُ وَهُوَ غَاشٌّ لِرَعِيَّتِه، إِلَّا حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ»

***ژباړه:*** *هر هغه څوک چې الله سبحانه وتعالی یې د خپلو یو شمېر بندګانو لپاره مامور او مسوول کړي او هغه مسوول بنده د هغو کسانو په حق کې چې تر لاس لاندې یې دي، بې پروایي وکړي او وروسته مړ شي، نو الله سبحانه وتعالی جنت پرې حرام کړي.*

د سعودي د دولت په واسطه د یمن د ښارونو او کلیو اوسنی کلابندي، د سرکونو د بندېدو او د نقلیه وسایطو د اړیکو د پرېکون لامل شوې ده؛ داسې چې ماشومان او ښځې صحي خدمتونو ته لاس رسی نه لري. کلیوال اړ دي چې خپل ناروغان د لاسي وسایلو په توګه ولېږدوي. له غرونو څخه دا ډول ښکته او پورته کېدل د ۲۱مې پېړۍ د پرمختللي ژوند معیارونه بربندوي. یوازې د اسلامي خلافت په بیا راتلو سره به دا ډول ویجاړوونکې ستونزې له منځه لاړې شي او مسلمانان به د وېرې، ناروغۍ او بېوزلۍ له ګواښ څخه خلاص شي. نو د ټولې نړۍ له مسلمانانو څخه غواړو چې د اسلامي دولت د بیا راوستلو لپاره سره یو شي او هم له الهي درباره غواړو چې موږ ته په چټکۍ سره بریالیتوب را په برخه کړي.

**لیکوال: عمرانه محمد**

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر غړې**

**۱۴۴۰هـ.ق، د جمادي الاول ۲۰مه**

**۲۰۱۹م، د جنوري ۲٦مه**

**ژباړن: منصور دریځ**